ورځپاڼه

# هېواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسيس کال ۱۳۲۸ لمريز
سه شنبه د ذوالقعدة الحرام ۲۹مه ۱۴۴٦ق کال، د غبرګولې ٦مه ۱٤۰٤ ل کال، د مې ۲۷مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ٥٤مه، پرله پسې ګڼه ۷۱۷مه، اتمه دوره


## د صنعتي ساحو د جوړولو لپاره ۸۰ زره جريبه ځمکه انتقال شوې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت وايي: په ۲۸ ولايتونو کې د صنعتي ساحو د جوړېدو په موخه د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته شاوخوا ۸۰ زره جريبه ځمکه انتقال شوې ده.د عاليقدر امیرالمؤمنين (حفظه الله ) په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون په ځانګړې ترسره شوې غونډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او اراضي رياست په ګډون پلاوي ته دنده سپارل شوې وه، چې د کابل په څلورو خواوو کې دې د صنعت اوليه او خفيفه لپاره دوه، دوه جريبه ځمکه د صنعتي سيمو د جوړولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، د چاپېريال ساتنې او ښاري ماسټر پلان اړوند د يوې کړنلارې له مخې يادې ځمکې ځانګړې او وسپارې. ياد معاونيت زياتوي: په کندز کې دې ۱۰ زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماسټرپلان اړوند ځانګړې او وسپارې. همداراز، له کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او کندز ولايتونو پرته په نورو ولايتونو کې دې د امکان په صورت کې د صنعتي پارک لپاره په هر ولايت کې ۱۰۰۰ جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماسټرپلان اړوند ځانګړې او وسپارې.د دې معاونيت په وينا: په ننګرهار، کندهار... ۳مخ

مولوي امير خان متقي:

## افغانستان د ثبات او خپلواکۍ نوی فصل پيل کړی



د بهرنيو چارو وزارت د وياند مرستيال ضيا احمد تکل پرون ويلي، چې د دغه وزارت سرپرست مولوي امير خان متقي د چين ولسي جمهوريت د سېچوان ولايت د نړيوال اقتصادي او سوداګريز فورم چې د ګڼو هېوادونو وزيرانو او استازو په کې ګډون کړی، پرانيست غونډې ته وينا کړې. ده ويلي، چې افغانستان نن يو نوی فصل پيل کړی، چې هغه د ثبات، امنيت او خپلواکۍ فصل دی.
ده وويل: له جګړو راوتلی افغان ملت اوس نورو هېوادونو سره د اقتصادي همکاريو ... ۳مخ

صنعتکاران:

## هېواد کې ۳۸ صنعتي خونې او ۶۰۰۰ فابريکې فعالې دي

د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت وايي، چې د ياد وزارت مالي او اداري مرستيال، ډاکټر محمد نعيم د يو شمېر صنعتي خونو له مسئولينو سره کتلي او پر بېلابېلو مسايلو يې خبرې کړې دي. د بهرنيو چارو وزارت د خبرپاڼې له مخې په دې کتنه کې صنعتکارانو د اسلامي نظام له حاکميت،




ټينګ امنيت او روانو رغنيزو فعاليتونو خوښي ښودلې او ويلي يې دي، چې اوسمهال په هېواد کې ۳۸ صنعتي خونې او له ۶۰۰۰ زياتې فابريکې فعالې دي. د صنعتکارانو په وينا دوی په مستقيم او غير مستقيم ډول ميليونونو کسانو ته کاري فرصتونه برابر کړي او په دې برخه کې يې د خپلو هڅو پر پراختيا ټينګار کړی دی. بله خوا د بهرنيو چارو وزارت مالي او اداري مرستيال، ډاکټر محمد نعيم صنعتکاران د هېواد د اقتصاد يو مهم بنسټ بللي او د دوي هڅې او ... ۳مخ

## د چين د نړيوالې سوداګرۍ د ودې شورا استازي کابل ته راځي

د چين د نړيوالې سوداګرۍ د ودې شورا مرستيال چين جيانان د افغانستان د اسلامي امارت د سياسي او اقتصادي اړيکو ستاينه يې کړې. نوموړي ويلي: د چين د نړيوالې سوداګرۍ د ودې شورا



صنعت او سوداګرۍ وزارت له مرستيال او پلاوي سره په ليدنه کې د دوی هرکلی کړی او د چين او افغانستان ترمنځ د ښو د دې هېواد د دولت او دولتي تصديو ترمنځ د يو پله رول لري او هڅه کوي، چې کورني او بهرني شرکتونه ... ۳مخ

## کابل؛ د کډوالو لپاره د ځمکو د وېش کمېټې غونډه وکړه

کابل کې د کډوالو لپاره د ځمکو د وېش کمېټې غونډه د دې ولايت د مرستيال ملا محمد يونس مخلص په مشرۍ ترسره شوه. د کابل ولايت د مقام رسنيز دفتر د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ليکلي، چې په دې غونډه کې د کور او ښار جوړولو وزارت، کابل ښاروالۍ، د استخباراتو رياست، د اراضي رياست، د اوبو رسونې رياست، د کليو د بيارغونې او پراختيا رياست، د چاپېريال ساتنې رياست، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست، د عامې روغتيا، پوهنې، برښنا، ټولګټو چارو او د کډوالو چارو رياستونو رئيسانو ګډون درلود. په خبرپاڼه کې د ولايت د مرستيال له قوله ويل شوي، چې اړوندې ادارې بايد په بشپړ اخلاص او ژمنتيا سره همکاري وکړي او د کډوالو




لپاره ټولنيزې اسانتياوې- لکه روغتيايي مرکزونه، ښوونځي، جوماتونه، د څښاک پاکې اوبه، برښنا او سړکونه— په معياري ډول برابرې شي.
ده ټينګار کړی، چې د ځمکو د وېش له بشپړېدو وروسته بايد ديادو خدماتو ... ۳مخ

## د کتاب ارزونې کمېسيون غونډه وکړه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو د مرستيال مولوي حيات الله مهاجر فراهي په مشرۍ د کتاب ارزونې کمېسيون او د ياد کمېسيون نورو غړو شتون درلود. د غونډې په پيل کې د کمېسيون منشي د تېرې غونډې راپور وړاندې کړ او مولوي حيات




نوبتي غونډه وشوه. په دې غونډه کې د باختر اطلاعاتي اژانس رئيس مولوي ضياءالحق حقمل، د کاپي رايټ آمر مولوي عبدالحق حماد الله مهاجر فراهي د کمېسيون لاسته راوړنې او فعاليتونه مثبت وارزول. په غونډه کې د بېلابېلو کتابونو په اړه لازمې ... ۳مخ

## له هرات څخه اروپايي هېوادونو ته ۲۵ ټنه اچار صادر شول

د هرات محلي مسئولين وايي، چې له دغه ولايت څخه پرون د يوه توليدي شرکت له لوري ۲۵ ټُنه اچار اروپايي هېوادونو ته ولېږدول شول. د هرات والي نوراحمد اسلامجار په دې اړه جوړ شوي مراسمو ته د وينا پرمهال دغه ګام ستايلی او ټينګار يې کړی، چې د صادراتو برخه کې سوداګرو ته اسانتياوې برابرې شوې دي. په ورته مهال د «ګلنواز» توليدي شرکت مشر نوراحمد عليزايي وايي، چې دغه اچار د محلي کروندګرو له کرنيزو محصولاتو جوړ او په وينا يې، له نړيوالو معيارونو سره سم چمتو شوي دي. بله‌خوا د هرات د صنعت او سوداګرۍ رئيس بشيرمحمد سيرت وايي چې د اچارو دغه جوپه ۲۵ ټُنه وزن لري او په پام کې ده چې دغه




شرکت په راتلونکې کې د صادراتو کچه لوړه کړي. په ورته مهال د هرات د کرنې او مالدارۍ خونې رئيس بشيراحمد بهادري بيا وايي، چې هرات د زعفرانو، انګورو، شاتو، بادرنګو، اچارو، انځرو او هوږې په څېر کرنيز محصولات لري چې ډېره برخه يې صادرېږي.

## د چک برښنا بند ته څېرمه تفريحي سيمه کې سيلانيانو ته هوټل جوړېږي

د ميدان‌وردګو محلي مسئولين وايي، چې د دغه ولايت په چک ولسوالۍ کې د «چک برښنا بند» ته څېرمه د سيلانيانو او تفريح کوونکو لپاره هوټل جوړېږي.د دغه ولايت له مقام څخه رسنيو ته لېږل شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د ياد هوټل د جوړېدو لپاره رسماً سروې د «هوټلونو د امارتي شرکت» د مسلکي ټيم له خوا پيل شوې او ټاکل شوې چې په دې سيمه کې به د ودونو تالار، رستورانت او هوټل ترڅنګ د سيمې خلکو او سيلانيانو ته



ګڼې نورې اسانتياوې هم برابرې شي. د ياد ولايت اوسېدونکي او يادې ولسوالۍ ته د تفريح لپاره ورتلونکي سيلانيان هم خوښ دي چې د چک برښنا بند ته څېرمه د سيلانيانو لپاره مجهز هوټل جوړېږي.دوی ټينګار کوي، چې چک ولسوالۍ د کورنيو او بهرنيو سيلانيانو لپاره د پام وړ او مناسب ځای دی او حکومت بايد دغې سيمې کې سيلانيانو ته د پام وړ اسانتياوې برابرې کړي. هېره دې نه وي چې د چک ولسوالۍ بند ته څېرمه د وخت دپاچاه محمد ظاهرشاه په وخت کې دغلته هوټل جوړ شوی و، چې د جګړو پرمهال له‌منځه تللی او اوس يې حتی نښې هم نه ليدل کېږي.

## فراه کې د اوبو رسولو شبکه جوړېږي

د فراه ولايت د کليو د بيا رغونې او پراختيا رياست د دغه ولايت د لاش جوين ولسوالۍ په شهداي انقلاب کلي کې د څښاک اوبو رسولو د يوې شبکې د جوړولو چارې پيل کړې دي.
د ياد رياست مطبوعاتي مسئول وايي: دغه شبکه د ۵.۲ ميليونو افغانيو په لګښت جوړېږي، چې پر مټ به يې ۲۶۳ کورنۍ، ۱۱ جوماتونه، د سيمې روغتيايي مرکز، ښوونځي او بازار ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شي. د سرچينې په وينا... ۳مخ

## محاصره غزه و انعکاسات این نکبت بزرگ

۲

## تخريب که ترميم؛ يا سالم انتقاد که رسنيزه جګړه؟!

۲

## غزني کې د پلاستيک د توليد يوې فابريکې فعاليت پيل کړ

په غزني کې د يوه ملي سوداګر له خوا د پلاستيکي محصولاتو د توليد يوه فابريکه پرانيستل شوه، چې په ورځني ډول د ۳ ټنو پلاستيکو او پلاستيکي کڅوړو د توليد وړتيا لري.
د يادې فابريکې مسئول ډاکټر امان الله غني زاده باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، چې دا فابريکه د ۳۵۰ زره امريکايي ډالرو په پانګونې فعاله شوې او ماشينونه يې له ايران څخه وارد شوي دي.د نوموړي په وينا، په دغې فابريکه کې ۵۰ کسانو ته د کار زمينه هم برابره شوې ده.د يادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم ورته فابريکه فعاله شوې وه.



# سرلیکنه



## د ګوزڼ ضد واکسین د تطبیق برخه کې د خلکو همکاري اړینه ده!!

پرون د هېواد په ټولو حوزو کې د ګوزڼ یا پولیو ضد واکسین کمپاین پیل شو، چې موخه یې د خپلو ماشومانو له فلج کوونکي ناروغۍ څخه خوندیتوب او د یوې سالمې ټولنې بنسټ اېښودل دي. د عامې روغتیا وزارت د مسئولینو په خبره، د دې پروګرام په جریان کې به شاوخوا ۸، ۱۱ یوولس اعشاریه اته میلیونه ماشومان چې عمرونه یې له پنځو کلونو کم وي د پولیو په وړاندې واکسین شي او روغتیایي ټیمونه به کور په کور واکسین تطبیق کړي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي، چې هېڅ ماشوم له دې پروسې څخه پاتې نشي. د یاد وزارت په وینا، د دغه کمپاین په ترڅ کې به هغو ماشومانو ته، چې له ۲۴ میاشتو څخه تر ۵۹ میاشتو عمر ولري، د چینجیانو (Albendazoles) ګولۍ هم ووېشل شي، چې د یادو ګولیو د وېشلو موخه په ماشومانو کې د چینجیانو د اړوندو ناروغیو مخنیوی دی.

د روغتیا د برخې متخصصین، پولیو، یا د ماشومانو فلج، یوه ساري ویروسي ناروغي ګڼي، چې زیاتره له پنځو کلونو څخه د کم‌عمر لرونکي ماشومان اغېزمنوي او دا یو واقعیت هم دی. افغانستان یو له هغو دوو هېوادونو څخه دی، چې لا هم پکې د پولیو مثبتې پېښې ثبتېږي. د دې ویروس د له منځه وړلو لپاره پراخې هڅې له څو کلونو راهیسې روانې دي، خو د تېرو ناخوالو، لرې پرتو سیمو ته د لاسرسي د نشتوالي او د ځینو کورنیو د بې باورۍ په خبر ننګونو د دې ناروغۍ د بشپړ له منځه وړلو پروسه ستونزمنه کړې. د ګوزڼ ناروغي یوه له هغو وژونکو او تلپاتې ناروغیو څخه ده، چې یوازې د واکسین له لارې مخنیوی ترې ممکن دی. دا ویروس د ماشومانو وجود فلجوي، د ژوند له عادي جریانه یې بې برخې کوي او د ټولې کورنۍ ژوند تر اغېزې لاندې راولي. له نېکه مرغه، اسلامي امارت د هېواد د ټولو ماشومانو د روغتیا خوندیتوب خپل شرعي او ملي مسئولیت بولي او د دې ستر مقصد لپاره یې هر اړخیز ټولنیز تدابیر نیولي دي. د اسلامي امارت له خوا د دې کمپاین پیل نه یوازې د عامې روغتیا پر وړاندې ژمنتیا څرګندوي، بلکې دا هم ښیي چې حکومت غواړي ټول ماشومان، که له هر قوم، سیمې او قشر څخه وي، له دې خطرناکې ناروغۍ وژغوري. په داسې حال کې چې واکسین مفت، خوندي او موثر دی، نو د تطبیق لپاره یې د خلکو همکاري اړینه ده. ولس باید د روغتیایي ټیمونو ملاتړ وکړي، خپل ماشومان واکسین کړي او له هغو خلکو سره مرسته وکړي، چې لا هم د ناپوهۍ، شک، یا ناسمو تبلیغاتو له کبله د واکسین پر ضد دي. د علماوو، سپین‌ږیرو، ښوونکو او ټولنیزو مشرانو رول هم خورا مهم دی، ترڅو د عامه پوهاوي له لارې د هر کور دروازه د واکسین پر مخ پرانیستل شي. موږ ټول باید دا درک کړو، چې د پولیو له منځه وړل یوازې د حکومت مسئولیت نه دی، بلکې دا یوې ملي وجیبې ته ورته مسئولیت دی. که موږ دا کمپاین جدي ونه نیسو، نو زموږ راتلونکي نسل به د تل لپاره د فلج له خطر سره مخ وي، نو اړینه ده، چې له روغتیایي پالیسۍ پوره ننګه وکړو، خپل ماشومان واکسین کړو، د واکسین ټیمونو ته امن، همکاري او مرسته برابره کړو او دا کمپاین د یو ملي افتخار په توګه تر سره کړو، ځکه روغ افغانستان، باثباته افغانستان دی.

# محاصره غزه و انعکاسات این نکبت بزرگ

**شبیر راحل**

منابـع متعـدد در غزه حکایت کشـته شـدن ده ها تن کودک و بزرگسـال کـه در روزهای اخیر در اثر گرسـنگی جان باخته اند و هزاران تن دیگر که در معرض خطـر گرسـنگی و مـرگ قرار دارنـد را بـه تصویر کشـیدند و اداره سـازمان ملل متحد هم گفته بود کـه اگر محاصره غـزه ادامه یابد و کمک‌های انسانی به شکل گسترده وارد نشـود، امکان دارد که فاجعه بـزرگ در غزه به میان بیاید .

محاصره مناطق زیر نفوذ و سـایه جنگ که در ان مردم غیر محارب و یا به اصطلاح ملکی سـکونت دارند، از قدیم الایام به حیث یک وسیله فشـار برای به دست آوردن اهداف ناروای جنگی و تضعیف طـرف از راه هـای فعالیتهای ضد بشری مروج بوده

و یـک نمونـه ان هـم محـاصره «شـعب ابی‌طالب» در آغاز اسلام بود. پـس از آن که دعوت پیامبر اسلام (ص) در مکه گسترش یافت و اربابـان زور و زر قریـش از افزایش نفوذ اسلام احساس خطر کردنـد و دیدند که پیامبر (ص) نه از تهدید مسـتقیم می‌ترسـد و نه سـایر تکتیکها، اراده حـق او را متاثر می‌سـازد، تصمیم گرفتند که برای تضعیف و شکسـتن حمایت مردم از پیامبر اکرم (ص) و قانون حق ، فشـار شـدید ضـد بشری فراگیـر سیاسـی و اجتماعـی و اقتصادی را طبق یک پیمان ظالمانه مکتوب تعمیل نمایند، تا بدینوسیله بنیه اقتصـادی و حمایت مردم از دعوت اسـلامی را همزمان نشانه بگیرد، که در آن پیمان آمده بود:

- هیچ‌کسـی نبایـد با بنی‌هاشـم ازدواج کند.
- هیچ کسـی نباید به آنـان غذا یا کالا بفروشد
- هیچ کسی نباید با آنان رفت‌وآمد داشته باشد.

در ایـن تحریم ، مسـلمانان در آن دره شـعب ابی طالب که در جوار شـهر مکه قرار داشـت از چهار سـو تحت فشار شـدید گرسنگی فقر و انزوا و مرگ قرار گرفتند و صدای گریه‌های کودکان از فرط گرسنگی و تشنگی و مرض و نبود و کمبود سـایر ضروریـات اولیه زندگی تا به شـهر مکه می‌رسـید و برخی بـرای بقای حیات شـان فقـط از برگ درختان و پوسـت حیوانات استفاده می کردند.

پس از گذشت سه سـال ( ۷ - ۱۰ بعثت )، برخـی از بزرگان قریش بنا بر احساس قومی و بشری شان به ظلم ان ماجـراء و پیمان قریش پی بردند و پیمان‌نامه را پاره کرده و آنرا ملغی کردند .

وضعیت فلاکت بار غزه هم شبیه « شعب ابی طالب «و حتی بدتر از آن اسـت . زیرا در محاصره شعب ابی طالب، مردمان شهر مکه بنابر دلایل همشـهری و میهنی و تباری و بشری، یـگان مروتی را از خود نشـان می‌دادند، ولی در محاصره غزه می‌بینیم کـه مجاوران همتبار فلسطینی‌ها ، عوض اطفال و سایر محصوریـن غزه، بـه شرکت‌های غربـی وام می‌دهنـد و در آنجـا سرمایه گذاری‌ها دارند و در سفر اخیر ترامپ دیدیم که بنا بر گفته خود ترامپ ، مبلـغ ۵،۱ تریلیون سرمایـه را بـه امریـکا سرازیر کردنـد و یک دزد قطري هم یک طیاره ۴۰۰ میلیـون دالری را برای ترامپ اهداء کرد، اما برای اطفال و پیرمردان و زنان محاصره شـده درغزه، یک قرص نان و یک بوتل آب نوشـیدنی را هم بـه صورت مستقل نفرستادند ؟؟؟

در بخـش عکـس العمل‌هـای کشـورهای دور و نزدیـک هـم اینک کشـورهای اروپایی و افراد و سازمان‌های دیگر که در بسیاری از مسائل با اسرائیل وجوه مشترک دارند، از جنگ آنها بر علیه حماس و مردم فلسطین حمایت کردند،اما در برابر کشـتار ضد بشری و ضد انسانی اسرائیل موقف گرفتند و بر علیه آنها نفرت و انزجار خویش را ابلاغ کردند.

ـ در ایـن مـورد صدراعظم هالند به صراحت اعلام داشت که آنچه بر مردم غزه می‌گـذرد بزرگترین توهین برای کرامت بشری است.

ـ وزیـر خارجـه فرانسـه گفت: مـا تصمیـم داریم دولت مسـتقل فلسطین را به رسمیت بشناسیم.

حکومـت بریتانیـا اعـلام کرد کـه مخالفـت اسرائیل بـا انتقال کمک‌هـای بـشری بـه جمعیت غیرنظامی، غیر قابل قبول است و خطر نقض قانون بشردوستانه بین المللی را در پی دارد.

ـ گلان رهبر حزب دموکرات‌های صهیونیسـت بـا انتقـاد تنـد از سیاسـت‌های جـاری رژیـم صهیونیستی هشدار داد که اسرائیل بـا عملکـرد ضد بـشری خود در غزه در انزوای جهانی و سـقوط اخلاقی قرار دارد و با غیرنظامیان می‌جنگد و کودکان و آوارگان را هدف قرار می‌دهد.

ـ بریتانیـا، کانادا و فرانسـه هم با انتشار بیانیه مشـترک به شدت با گسـترش عملیات نظامی اسرائیل در غزه مخالفت کرده و خواستار توقـف آن و بـاز کـردن راه‌های مواصلاتی کمک‌های بشری شدند و افزودند که ممانعت از رسـیدن کمـک به غیر نظامیـان غزه غیر قابل قبول و نقض قوانین بین‌المللی اسـت و اگر اسرائیل بـه تهاجم خود پایان ندهد ومحدودیت‌های کمک رسـانی را لغـو نکند ، در برابر آن اقدامات مشـخص انجام خواهیـم داد و هکـذا گسـترش پروسه شهرک سـازی اسرائیل در کرانه باختـری، مانع بـزرگ در برابر صلح است. همچنین این سه کشور بر طرح خود در به رسمیت شناختن دولت فلسطین تأکید کرده و آن را بـرای پایان جنگ نسـخه بهتر دانستند.

این مـوج مخالفـت و نفرت در سراسر جهان علیه جنایات جنگی اسرائیل در غزه بلند شـد. چنانچه یکی از شهروندان مسیحی امریکا بر سـفارت اسرائیـل در امریکا هجوم بـرد و دو تن از دیپلوماتان آن سـفارت را از پـا درآورد و در جریان دستگیری او توسط پولیس صدای هم غـزه را آزاد کنید، غزه آزاد کنیـد را بلند می‌کـرد، یعنی که غزه را از قتـل عام و محاصره اسرائیل برهانید.

این عمل به عنـوان واکنش بشری در برابر جنایـات جنگی اسرائیل خوب تمثیل شـد، طـوری که کله صدراعظـم اسرائیـل را هـم بـه درد آورد و اظهار داشـت که این عکس العمل‌ها در واقع حمایت از حماس اسـت، اما واقعیت امر این است که این کشـورها در جنگ اسرائیـل و حـماس از اسرائیـل حمایـت کردند و وقتـی اسرائیل به جنایات جنگی متصل شـد، آنها موقف خود را عوض کردند و در برابر آن صدا بلند کردند. خلاصه کلام اینکه اسرائیل با زیر پا کردن حقوق بشری شـهروندان فلسطین در جنگ غزه، نفـرت و انزجار ائتلافیون خودشان را هم بر علاوه مسلمانان علیه خود برانگیخت و در محافل مختلـف به آنان القاب کـودک کش و فاشیسـت و قاتل هدیه و اعلام کردنـد و این برای آینده اسرائیـل خیلی نگران کننده و به قیمت بلند تمام خواهد شـد، به خصـوص اگر شرایـط منطقه طـوری رقم بخورد کـه احزاب و طرفداران حماس در آن دست بالا داشـته باشـند، نه تنها شامل حال اسرائیل اشغالگر، بلکه شامل حال کشـورهای عربی هم خواهد بود که در زمان جنگ یا ساکت ماندند و یا هم در پشت پرده با اشغالگران تعاملات پیدا و پنهان داشتند و این چنیـن وضعیت بر اسـاس قاعده عمل و عکس العمل حتمی است و زمان وقوع آن بستگی به حوادث و شرایط محیط و جهان دارد.

مـا منتظریم که حـوادث به کدام سو رو می کند .

# تخریب که ترمیم؛ یا سالم انتقاد که رسنیزه جګړه؟!

**سالمزی**

**سیاسي تبصره:**

د تېر فاسـد نظام په له منځه تلو او د اسـلامي امارت په واکمنېدو سره کلـه چې غـربي اسـتعمارچیانو په افغانسـتان کې د خپل تاریخ له ټولو اوږده جګـړه وبایللـه او په نظامي ډګر کې له بشـپړې او شرموونکې ماتې سره مخامخ شول، نو د یو شمېر روزل شـویو اجنټانـو او مزدورو رسنیو پرمټ یې چې د همدې موخې لپاره ایجاد شوي، رسنیزه جګړه پیل کړه. دوی له واقعیته لرې شـایعات خپـروي او غـواړي د حکومت او ملـت ترمنځ فاصلـه او واټن رامنځ ته کـړي، حکومت پرملت او ملت پر خپل حکومت بې بـاوره کړي، دوی داسـې پوچ او بېځایه تبلیغات کوي، چې له حقیقت سره هېڅ اړخ نه لګـوي او دغه راز تبلیغات یې په لاره اچولي دي. موږ انسـانان یو او انسان له نسیان څخه اخیستل شوی چې سهوه او خطا به ضرور ورڅخه کېږي. موږ دا منو چې سـتونزې به وي او د سـتونزو د هـوارې لپاره به لاره او طریقه هم وي. موږ پرځای د دې چې سـتونزو ته د هوارې لاره پیدا کړو، مزیدې سـتونزې زېږوو چې زما پـه نظر د ترمیـم پر ځای تخریب ته لاره او طریقه جوړوو او غواړو له دې طریقه د اسـتعمارګرو اسـتعماري موخو تـه لاره پرانیزو، د سـالم انتقاد پرځـای منفي نیوکې کـوو او د خپل اسـلامي نظـام په مخکـې خنډونه جـوړوو، چې دا هم د غـربي اسـتعمارچیانو لپاره د تبلیغاتي (رسنیزې جګړې) یوه بېلګه ده. موږ دا هر څـه له نږدې څارو. مـوږ پوهېـږو چې هغـه څه چې دوی د جنـګ په پایله کې ترلاسـه نه کړای شـوای، په رسـنیزه جګړه کـې به یې هم ترلاسـه نه کړای شي او پـه دې تبلیغاتي جګړه کې به هم ناکام او مختوري شي. د تېرو څلورو لسـیزو په لړ کې زموږ ملت په دې پوهېدلی چې هېـواد پلورونکي او ایـمان پلورونکي څـوک او هېواد جوړوونکـي او د اسـلامي نظـام قایموونکي او ساتونکي څوک دي، د ملت پـر سرونو تجارت کوونکي څـوک او د ملـت خواخـوږي او خادمان څوک دي. هغوی د امریکا او ناټـو ځواکونو او د څلورسـوه زره افغـاني ځواکونـو پـه حضور او درلودلـو سره و نه شـوای کړای چې د هېواد پر اسـاسي او بنسټیزو پـروژو لکه د قوش تېپـې کانال، د لویـو لارو بیارغونـه، د څلورلارو جوړونه، د برښنا بندونه جوړول، د ولس ستونزو ته رسـیدنه او په هره بله برخه کې عمـلي کارونه وکړي. په خپلو امکاناتـو د دغه راز چارو سرته رسـول د یوه کامیاب نظام او حکومـت ځانګړنـې دي، چې پر خپل نظام د ملت بـاور هم زیاتوي او افغـان مؤمن او با تور ملت دا ډاډ ورکوي چې د خپل نظام او حکومت ملاتړ کوي او اوږه په اوږه به د خپل هېواد په پرمختګ او بیارغونه کې په اخـلاص او ایمانداری سره برخه واخـلي او خپل ځوریـدلي ولس ته به د خوښـۍ زېری ورکړي. زما په اند نور په افغانسـتان کې د هغه چا لپاره ځای نشته چې دا څلور لسیزې یې افغانان ځـورولي دي. زه یو ځل بیا پر خپل مؤمـن او په خدای مین ولس دا غږ کوم چې راځئ یو بل ته لاس ورکړو، د یوه فولادي دیوال په توګه د اسـلام او وطن د دښمنانو په مقابل کې کلـک ودرېږو، د هغوی پر پوچو تبلیغاتو تېر نه وځو، د خپل ګران او محبوب هېواد، د سمسورتیا لپـاره متـې راونغاړو او نه سـتړې کېدونکې هڅې وکړو، ترڅو د نړۍ لـه پرمختللي کاروان سره د سـیالۍ جوګه شو.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت:

# هېواد مو په کم وخت کې د ۱۳۴ قلمو موادو په تولید کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی

د صنعت او سـوداګرۍ وزارت ویاند عبدالسـلام جواد اخندزاده له هېواد ورځپاڼې سره مرکه کې ویلي دي چې د افغانستان اسـلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسـۍ له مخـې هڅه کوي چې د هېواد اړتیـاوو ته په کتلو سره هېـواد ځان بسـاینې ته ورسـوي. د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته په هېواد کې دننـه صنعت وده کړې او فعالیت یې د تېر په پرتله ښه روان دی، ځیني نوې فابریکې جوړې شوي او له کاره لوېدلې فابریکې هم فعالې شـوي دي چې په کـم وخت کې مو هېـواد د ۱۳۴ قلمو مـوادو برخه کې ځان بسایني ته رسېدلی دی، نو له دې څخه ښکاري چې افغانستان د صنعت په برخه کـې نوی ګام اېښـودلی او مخ پر ودې روان دی. له شـک پرته د صنعـت وده د هېواد اقتصاد پیاوړی کوي چې د پرمختللـو هېوادونو د پرمختګ بنسټ هم صنعت اېښودلی دی، زیاتـره هېوادونه خـام مواد له نورو هېوادونو ترلاسـه کوي؛ خو بیا هم پیاوړی اقتصاد لري، له نېکه مرغه چې افغانستان دننه د صنایعو اېستلو او زراعت په برخه کې په مکمله توګه خام مـواد په لاس کې لـري چې په خپله د سترې پانګونې سبب ګرځي، د سـوداګرو پام ځان تـه وراړوي او د ماشـین الاتو او نوې ټکنالوژۍ پر مټ باید صنعت ته وده ورکړي چې د هېواد اقتصاد پیاوړی شي.

همدارنګـه د ځـان بسـیاینې بحث چـې وي، نو په ټولیـز ډول بېلا بېلې برخې د صنعـت پرمختګ وکړي او دا ومنل شي چې هېواد د صنعت لپاره پیاوړې برخې لري، پـه کور دننه او بهر کې ورته ښه بازارونه پیدا کېږي او ځانګـړی ځای لري، همدا شـان اسـانه لاسي صنایعو پرمختګ کړی، د ارزښـتمنو کانو برخو کې هم کار شـوی دی او د صنعت او سوداګرۍ وزارت هڅه کوي تر څو د صنعت له بېلا بېلو لارو د هېوادوالو اړتیاوې پوره کړي او ورته رسېدنه وکړي.

د نومـوړي پـه خـبره: د صنعت او سوداګرۍ وزارت د هېواد د صنعت د پراختیـا او ودې په پار تل هڅه کړې ده تر څو د صنعت کارانو لپاره زمینه او سـهولت برابر کړي، لکه دوی ته ځمکه ور کول، د اسناد په وېش کې ورته اسانتیاوې راوستل، د خامو موادو او ماشـین الاتو په را واردولو باندې تعرفې لګول، په کور دننه تولیداتو ته وده ور کول او همدا شان د هېوادوالو تشویقول تر څو کورنیو ...

۳مخ

# سرمایه‌گذاری در زیرساخت ها؛ راهی به سوی توسعه پایدار

**احمد**

افغانستان کشوریسـت دارای معادن سرشـار طبیعـی کـه اگـر پیرامون اسـتخراج این معـادن، تـلاش های مدبرانه صورت گیرد، در آینده نزدیک افغانسـتان پله هایی از رشد و توسعه اقتصادی را تجربـه خواهد کرد. چه زیبا گفته اند:

سرمایه گـذاری در زیر سـاخت ها همچون راهی به سـوی توسعه پایدار وبهبود شرایط اقتصـادی و اجتماعی است.

روی ایـن اسـاس، نظـام حاکـم در افغانسـتان نیز بـا تمـام امکانات در صدد اینسـت تا سرمایه داران داخلی وخارجی را پیرامـون سرمایه‌گذاری در افغانسـتان، جذب و حمایت کند، زیرا این نظام بعد از حاکم شدنش در افغانستان، یکی از پروژه هایی را که عملی شـدن آن در نظام های پیشین به یک رویا، تبدیل شـده بود، به منصه اجراء قـرار داد و در آینـده نزدیک شاهد تکمیل شدن فاز دوم این پروژه نیـز خواهیم بـود. همچنین توجه به زیرسـاخت های کلیدی نظیر شاهراه سـالنگ ها، احیـای کار خانه های قدیمی، بازسازی وبهسازی جاده های ترانزیتی، تقویت شـبکه حمل ونقل و... مـی تواند در آینده نزدیک رکود اقتصادی را در کشور عوض کند.

روی این اسـاس این تلاش‌ها در میان مدت نه تنها کیفیت زندگی شهروندان را بهبود خواهد بخشـید، بلکه زمینه ساز جذب سرمایه‌گذاری های داخلی وخارجی نیز خواهد شد.

بنابرایـن برای نیـل به ایـن اهداف، همکاری میان امارت اسلامی، سکتور خصوصی وسـازمان های بین المللی، ضروری اسـت تا از طریق مدل های نوین تامین مالـی، منابع لازم فراهم و مدیریت مؤثری بر پـروژه ها اعمال شود .

اخیراً مسـئولان در امارت اسـلامی جهت تقویت روابط سیاسی، به ویژه اقتصادی و بازرگانی به کشـور های مانند؛ روسـیه، جمهوری تاتارستان، جمهوری اسلامی ایران، اوزبیکستان، ترکمنستان، چین و... سفرهای داشتند و در این سفر ها ...

ص۳


Hewad Daily

سه‌شنبه د ذوالقعدة الحرام ۲۹مه ۱۴٤٦ق کال د ۱٤۰٤ ل کال د غبرګولي ٦مه د 2025 م کال د مې 27 مه

د ورځپاڼو رئیس : انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲٦۳٤۰
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۵۲٦۳٤۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷٦٦۰۴۴۹٦٦-۰۷۳٦۰٦۰۷۳

# ازبېکستان له افغانستان سره د سیمه‌ییزو همکاریو د زیاتېدو غوښتونکی دی



د ازبېکستان د ستراتیژیکو او بین‌المنطقوي مطالعاتو د مؤسسې مرستیال، له افغانستان سره همکاري د سیمې لپاره مهمه ګڼي او د شانګهای د همکاریو سازمان له لوري له افغانستان سره د اړیکو ګروپ د بیا فعالیدو غوښتنه کوي . د ازبېکستان د ستراتیژیکو او بین‌المنطقوي مطالعاتو د موسسې مرستیال، بختیار مصطفی‌یوف وایي: (( له افغانستان سره همکاري لا هم د سیمې او د شانګهای د همکاریو سازمان د غړو هېوادونو لپاره یو حیاتي ارزښت دي. دا خبرې د سیمه‌ییزو همکاریو بهیر ته د افغانستان د ورګډولو او په دغه هېواد کې د تلپاتې ثبات لپاره د اړینو ټولنیزو-اقتصادي شرایطو د پیاوړتیا په موخه د ازبېکستان د پرلپسې هڅو دوام دی.)) ... ۳مخ

## اروپايي چارواکي:
# د غزې په اړه خاموشي له قتل عام سره مرسته ده

د فرانس ۲۴ رسنۍ د راپور پر بنسټ، هسپانیې غزه کې دوروستي وضعیت د بدلون په موخه وړمه




ورځ د دې هېواد پلازمېنې مادرید کې د عربي او اروپايي هېوادونو چارواکي وربللي وو.رسنیو ویلي: د غونډې پر مهال د ګڼو هېوادونو چارواکو غزه کې د اسرائیلو له خوا د غیر انساني جګړې د پای او غزې ترانګې ته د بشري... ۳مخ

# تېرو ۲ میاشتو کې ۵۰۸۷ بهرنیو وګړو افغانستان ته تګ راتګ کړی

د احصایې او معلوماتو ملي اداره وایي، چې د ۱۴۰۴ لمریز کال د لومړیو دوو میاشتو په اوږدو کې د بهرنیو وګړو تګ او راتګ ثبت شوی دی . ثبت شوي ارقام ښیي، چې په یاده موده کې د ۱۱۹ ښځینه‌وو په



هوايي ډګرونو او ځمکنیو بندرونو له لارې هېواد ته د پنځه زره او ۷۸ ګډون دوه زره او ۶۵۸ بهرني وګړي هېواد ته راغلي او د ۶۷ ښځینه‌وو په ګډون، دوه زره او ۳۹۳ نور له هېواده وتلي دي.

له بلې خوا، د ثبت شویو ارقامو له مخې ښکاري، چې دوه زره او ۶۱۸ کسان له ځمکنیو بندرونو او ۴۰ تنه نور د هوا له لارې هېواد ته راغلي، چې له دې ډلې یې ۳۵۲ تنه د هېواد د لرغونو او تاریخي سیمو د لیدنې او پاتې نور یې د کار په موخه راغلي دي. د دې ادارې د ثبت شویو ارقامو پر بنسټ، له ټولو ډېر ۱۸۲۰ بهرني وګړي د نیمروز له بندر او ورپسې ۵۷۷ تنه د هرات له بندرونو او پاتې نور د بلخ او کندهار له هوايي ډګرونو، د تورخم، سپین بولدک او د فاریاب د اقینې بندر له لارې هېواد ته راغلي دي.

# د روان کال د کانکور ازموینې د ګډونوالو بایومتریک بهیر پیل شو




د ازموینو ملي ادارې له خوا، د ۱۴۰۴ هجري لمریز کال د عمومي کانکور ازموینې د لومړي پړاو ګډونوالو لپاره د بایومتریک معلوماتو د ثبت بهیر پرون د لوګر او میدان وردګو ولایتونو څخه رسماً پیل شو، چې درې ورځې به دوام وکړي. یاده اداره وایي: د کانکور ازموینې په لومړي پړاو کې د ۱۱ ولایتونو (میدان وردګو، پروان، کاپیسا، پنجشېر، بغلان، بامیانو، دایکندي، غور، غزني، لوګر او پکتیکا) د ګډونوالو لپاره ازموینه د غبرګولي په ۷مه، ۸مه او ۹مه نېټه ... ۳مخ

# هرات کې لسګونه میله وسلې نیول شوي

د هرات امنیه قومندانۍ له ترهګرۍ سره د مبارزې پولیسو له تېرو شپږو میاشتو راهیسې د بېلابېلو پلټونکو عملیاتو په لړ کې ګڼ شمېر ناقانونه وسلې او مهمات نیولي. دکورنیو چارو وزارت وایي: په نیول شویو وسلو او مهماتو کې ۲۰ میله تومانچې، ۴ میله کلاشینکوفونه، ۸ میله د ښکار وسلې او نږدې دوه زره مرمۍ او نظامي تجهیزات شامل دي. د وزارت په خبره، یادې وسلې او مهمات له ثبت وروسته د ډاپاک مدیریت ته ... ۳مخ

# برگزاری کنفرانس علمی «بایدها و نبایدهای سیاست خارجی افغانستان» در هرات

کنفرانس علمی تحت عنوان «بایدها و نبایدهای سیاست خارجی افغانستان» از سوی نمایندگی وزارت امور خارجه در هرات و پوهنتون جامی، در سالون کنفرانس‌های این نمایندگی برگزار شد. در این کنفرانس، شماری از استادان و محصلان پوهنځی حقوق و علوم سیاسی، اعضای رهبری و شورای متخصصان هرات شرکت کرده بودند و پیرامون ابعاد گوناگون سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان به بحث و تبادل نظر پرداختند. در آغاز برنامه، داکتر محمد اسماعیل سلیم، رئیس نمایندگی وزارت امور خارجه در هرات، ضمن خوش‌آمدگویی به اشتراک کنندگان، بر اهمیت برگزاری چنین نشست‌ها در راستای هم‌اندیشی و ارائه راه‌حل‌ها برای سیاست خارجی کشور تأکید کرد و خواستار تداوم



این گونه محافل علمی شد. وی اظهار داشت که برای ثبات سیاست خارجی افغانستان دو اصل بنیادی ... ۳مخ

## د مالتا لومړي وزیر:
# هېواد به مو د فلسطین دولت په رسمیت وپېژني

د راپورونو له مخې د مالتا لومړي وزیر رابرټ ابیلا اعلان وکړ، چې هېواد به یې د جون په میاشت کې د فلسطین دولت په رسمیت وپېژني. دغه اعلان هغه مهال وشو، چې ابیلا د یوې سیاسي غونډې پر مهال د کورنیو او نړیوالو مسایلو په اړه خبرې کولې. نوموړي پر غزې د اسرائیلو بریدونه وحشیانه وبلل او زیاته یې کړه، چې د فلسطین د دولت په رسمیت پېژندنه د دوی اخلاقي مسئولیت دی او دا به د جون پر ۲۰مه نېټه له یوه نړیوال کنفرانس وروسته رسمي اعلان شي.

# د لوګر د پوهنې ریاست سره د ۵۰ زره ټوکو کتابونو مرسته

د لوګر د پوهنې ریاست مسئولان وایي چې د ماشومانو لپاره د ملګروملتونو د ملاتړې ادارې (UNICEF) له لوري د دغه درسي توکو مرسته وشوه. د دغه ولایت د پوهنې ریاست ویاند شاهپور عرب رسنیو ته وویل: دغو درسي توکو کې څه باندې



۵۰زره ټوکه د لومړنیو ټولګیو د زده‌کوونکو لپاره دکتابونو مرسته شوې ولایت د پوهنې ریاست اړوندو ښوونځیو سره د شاوخوا ۱۵زره امریکایي ډالرو په ارزښت د ... ۳مخ

# کاپیسا کې راستنېدونکو ته د سرپناه برابرولو هڅې چټکې شوې

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت وایي: په کاپیسا کې د هغو راستنېدونکو افغانانو لپاره چې سرپناه نه لري او یا یې کورونه ویجاړ شوي، د ټینګښت، د مېشت غالي د سیمې چمتووالی، کاري پلان جوړونه، خېمې، خوراکي توکي، د څښاک د پاکو اوبو برابرول، ګرځنده کلینیک، امبولانس او




لنډمهالي مېشت غالي د جوړېدو په موخه د همغږۍ غونډه شوې ده. د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، په دې ناسته کې د امنیت د روغتیایي کڅوړو د وېش په ګډون پر بېلابېلو برخو خبرې شوې دي. د غونډې ګډونوالو د اړینو خدمتونو ... ۳مخ

## ټېلګراف رسنۍ:
# د چین پوځ د نړۍ پر پیاوړي ځواک بدل شوی

د چین پوځ په ځینو نظامي اطلاعاتي حوزو کې په چټکۍ سره د امریکا له متحدو ایالتونو د مخکېوالي په حال کې دی، کومې موضوع چې واشنګټن کې یې اندېښنې راپورته کړې. د برېتانیې « ټیلګراف» ورځپاڼې یوه راپور کې ویلي: کله چې د پاکستان پوځ یوې چینایي جنګي الوتکې د کشمیر د غرونو پر فضا توغندی وتوغاوه او د هند اړونده فرانسوي رافائل جنګي الوتکه یې نسکوره کړه، لوېدیځ کې د خطر زنګونه وهل شوي، ځکه دا لومړی ځل و، چې لوېدیځ د جګړې ډګر کې د چینيJC۱۰- جنګي الوتکې د عملیاتو او د PL ۱۵- توغندیو کارولو لیدونکي و. راپور کې ویل شوي، چې




لوېدیځ چارواکي له هغه وخته راهیسې په دقت سره د دغې ښتې جزئیات ارزوي، ترڅو مشخصه کړي، چې دغه مسئله د چین د پوځي وړتیاوو په تړاو څه مانا لري او ایا د ولسمشر شي‌جین‌پینګ په مشرۍ چین د لوېدیځو ځواکونو کچې ته رسېدلی او که نه. ټیلګراف زیاته کړې، چې د چین پوځ تېرو ۲۵ کلونو کې له یوه کوچني ځواک څخه، د نړۍ په ډېر ستر او پیاوړي ځواک بدل شوی دی.

# له پاکستان څخه د ۳۵ ټنه خوسا کچالو د راواردولو مخه نیول شوې



د ننګرهار ځایي مسئولین وایي،چې د تورخم له لارې افغانستان ته واردېدونکي ۳۵ متریک ټنه خوسا کچالو یې بیرته پاکستان ته ورګرځولي. د ننګرهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس محمد ولي محسن وړمه ورځ وویل: دغه کچالو په تورخم ښارګوټي کې د نباتي قرنطین مدیریت له لوري بې‌کیفیته او خراب تشخیص شوي او بېرته پاکستان ته ور ګرځول شوي. د اسلامي امارت مسئولانو له ټولو سوداګرو د باکیفیته محصولاتو د واردولو هیله کړې، ترڅو هیوادوال له صحي او پاکو محصولاتو څخه ګټه واخلي ... ۳مخ